**بسم الله الرحمن الرحيم**

## بد او بې ارزښته خلک لږ او ښه او نېک خلک ډېر دي

**(ژباړه)**

له مرداس اسلمي رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«**یذهب الصالحون الأول فالأول، وتبقى حثالة كحثالة الشعیر أو التمر، لا یبالیهم الله باله**» (رواه البخاري)

**ژباړه:** *نېک انسانان یو پر بل پسې ځي او د خرما یا وربشو د پاتې شونو پشان پاتې شوني (بې ارزښته خلک) پاتې کېږي چې الله سبحانه وتعالی هېڅ پام نه ورته کوي.*

په دغه حدیث شریف کې دوې ډلې خلک معرفي کېږي؛ ښه او نېک خلک او ناوړه او بې رازښته خلک.

نېکي کوونکي انسانان هغه دي چې شمېر یې ډېر دی او هغه اوامر پلي کوي چې الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې امر کړی دی. ناوړه او بې ارزښته خلک ډېر کم دي، هغه وخت پیدا کېږي چې د ښو او نېکو انسانانو شمېر لږ شي او یا نېک انسانان د هغوی د کارونو پر وړاندې چوپ پاتې شي.

نېکي کوونکي هغه خلک دي چې یوازې اسلام یې د خپل دین په توګه منلی، قران یې د خپل ژوند د لارښود په توګه ټاکلی، اخرت خپله وروستۍ موخه بولي، اخرت ته د رسېدو لپاره هڅه کوي او خپل ټول عملونه د اخرت لپاره کوي. د شریعت له نظره یو انسان هغه وخت غوره بلل کېږي چې د الله سبحانه وتعالی پر اوامرو عمل وکړي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره پل کېږدي؛ خو دغه صالح او ښه انسانان په هر وخت کې ثابت نه دي پاتې، بلکې د الله سبحانه وتعالی له سنتو سره سم په خلقت کې بدلون راځي. ځکه هر عصر او وخت خپل صالح خلک لري چې له نېکي کوونکو کسانو سره ملګري کېږي او د هغو کړنو او عملونو په ترسره کولو کې ورسره مرسته کوي، چې د الله سبحانه وتعالی د رضایت سبب کېږي.

یعنې کله چې زمانه یا وخت صالح وي، نېکي کوونکي انسانان ښکاره او غالب کېږي او که زمانه فاسده وي، بې ارزښته او ناوړه انسانان ډېرېږي او برتري پیدا کوي. سره له دې، دا په بشپړه توګه د صالحانو د له منځه تلو معنا نه لري، بلکې فساد دومره ډېرېږي چې ته به وایې تیارې او بدیو پر روښنایۍ او نېکۍ غلبه کړې ده. نو، موږ باید هیله ونه بایلو او د زمانې شرایط د نه بدلېدو وړ ونه ګڼو.

پست او ناوړه خلک، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث شریف کې توصیف کړي، د بې ارزښته پاتې شونو او خځلو پشان دي او هېڅوک اهمیت نه ورکوي. د دغو کسانو وضعیت او حقیقت د بدبویه خځلو او کثافاتو پشان دی. موږ په دغو ورځو کې دغسې کسان ډېر وینو او په اړه یې ډېر څه اورو؛ ځکه دا یې وخت او دوره ده او د دې زمانې خلک دي. دغه کسان ډېر لږ دي، د ټولنې اکثریت د ښو او نېکو خلکو دی چې پېژندل یې اسانه دي.

بې ارزښته خلکو ځمکه فاسده کړې او څوک چې غوږ ورته نیسي او پیروي یې کوي؛ لارورکي کوي. دا کسان د اخرت ژوند د دنیا په بدل کې خرڅوي او ځینې خو یې ان خپل ژوند پر نورو خرڅ کړی. دغه کسان د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره تګ او د الله سبحانه وتعالی د احکامو پلي کولو لپاره هڅه نه کوي. د دغو کسانو او هغو چې پیروي ترې کوي، ژوند ډېر کم دی؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«إن دولة الظلم ساعة ودولة الحق إلى قيام الساعة»**

**ژباړه:** *د ظلم دولت یو ساعت دی، خو د حق دولت به تر قیامته دوام ولري.*

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې د دغو ناوړه انسانانو وخت او زمانه لنډه، شمېر یې کم او کارونه یې بې اغېزې کړي او موږ د هغو غوره او صالحو انسانانو له ډلې کړي چې د صالحو سلفو پر لاره لاړ شو؛ هغه چې د الله سبحانه وتعالی د شریعت حاکمولو، اعلاء کلمة الله او د هغه سبحانه وتعالی د عدالت د پراختیا لپاره هڅه کوي. اللهم امین!

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**